AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیلانی ۲۰۲۰/۰۸/۱۷

# آیا تشخیص، جاندار انګاري او بې جاندار انګاري یو دي؟

ستا پـه انـنـګو کې د حـمـزه د وینو سرهٔ دي
تهٔ شوې د پښتو غزله ځوان زهٔ دې بابا کړم

د ادب تاریخ پهٔ یوهٔ لیکل شوي اثر کې مې د اروابناد حمزه بابا دا بیت تر سترګو شو، لږ څهٔ پرې تم شوم، لهٔ ځانه سره مې وویل باید دا بیت و سپړم او لهٔ یوې نوې زاویې ور باندې بحث ترسره کړم. همداسې وشول ما د خپلې مطالعې لهٔ مخې دا بیت سپړلی او تحلیل کړی دی، ښایي لوستونکو یا د شعر خوښونکو تهٔ څهٔ نوي شیان پهٔ کې وموندل شي.
ما پهٔ دې لیکنه کې پورته بیت لهٔ دوو اړخونو تر څېړنې لاندې نیول دی، لومړی د بلاغي علومو پهٔ چاپیریال کې او دویم د ژبپوهنې لهٔ اړخه .
لومړی غواړم دابیت د بلاغلي علوم پهٔ چاپیریال کې وسپړم :
ستا اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
حمزه بابا پهٔ پورته مسره کې پښتو غزل ته انساني ځانګړنه ورکوي، یعنې پښتو غزل د انسان پهٔ بڼه مخاطبوي او د انسان د وجود ځانګړنې ورکوي، ځکه: اننګې او د وینو سره د انسان پهٔ مخ کې وي، پهٔځانګړې توکه د ښځینو پهٔمخ کې هغه مهال کې ډېر ځرګند ښکاري چې ښځینه او نارینه د شرم او تاثیر یا هم د متکلم د خبرو د تاثیر لاندې وي، نو لهٔ ورایه یې اننګې سره کیږي او پهٔځینو سپینو نجونو او هلکانو کې د اننګې رګونه پهٔ یادو حالتونو کې لهٔ ورایه ښکاري.
لوستونکو ته کېداشي داسې پوښتنه پیدا شي، چې شعر ته د داسې ځانګړنو ورکولو ته څهٔ وایي؟ موږ پهٔبلاغي علومو کې دړې بېلابېل توکي لرو، چې پهٔ ډېرو ژبو کې یې د شعر پوهان پهٔ توپیر او پېژندنه کې تېروتنه کوي.
لومړی: تشخیص : هغه ادبي توکی یا صنعت دی،چې شاعر پهٔخپل شعر کې طبیعت، طبیعي شیان او د ژوند مادي توکو تهٔ انساني ځانګړنه او بڼه ورکړي. تشخیص بیا پخپله ځانته ډېر ډولونه( حسي، عقلي، ذهني...) لري، چې ځینې دادي :
حسي تشخیص: چې تشخیص شوې کلمه یا کلمې د انسان پهٔ پنځو حواسو حس شي، لکه:

ګل همېشه بلبل ته خاندي
بلبل د ګل پهٔخندا کاندي فریادونه

پهٔپورته بیت کې « ګل » ته چې د طبیعت یوه برخه ده، انساني ځانګړنه ورکړل شوې ده. همدارنګه دا ګل د طبیعت هغه توکی دی، چې د انسان پهٔ پنځو حواسو باندې حس کیږي او د لمس وړ توکی دی. نو ځکهٔ ورته حسي تشخیص وایو.

رګ به رګم نوا کشید در صفت محمدی
تا به رباب جسم من ناخن زنده ګی زدی

»رګ« که یکی از اعضای بدن است، چون انسانی دانسته شده که در وصف پیامبر اکرم( ص) در نواست. تاسو کهٔ دپارسي ژبې دا بیت تهٔ ځیر شئ، نو رګ تشخیص شوی دی، نو طبیعي خبره ده، چې رګونه د انسان پهٔپنځو حواسو د درک او پېژندنې وړ دي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عقلي تشخيص : هغه تشخيص ته وايي، چي پهٔ ظاهري حواسو د درک او پيژندني وړ نهٔ وي. لکه: روح، مهال، د روژې مياشت... د بېلګي پهٔ توګه لومړی پهٔ پښتو ژبه کي يوه بېلګه تاسو تهٔ وړاندي کوم:

بخت مرور شو نصيب ژاړي
قسمت د غم پهٔ جيلخانه کي بندي کړمه

کهٔ پورته لنډۍ تهٔ ځير شو، نو « بخت، نصيب او قسمت » تشخيص شوي کلمات دي. دا کلمات پهٔ ټوليزه توګه د معنا نومونه يا کلمات بلل کيږي، چي د انسان پهٔ ظاهري حواسو يي ليدل او پيژندنه ناشوني ده، بلکي د انسان د عقل لهٔ پاره منونکي کلمات دي او د عقل پهٔ واسطه منل کيږي.

روح برون شد ز تن، چاک زد اين پيرهن
هان نظر ذوالمنن رفت دل ها چو ديد

«روح» که همان جان است، به گونه ی شخص عصبانی تصوير شده که با قهر از خانه ی ميزبان تن برون می شود و گريبان او را می درد.
اوس را ځو خپل اصلي مطلب ته

ستا پـهٔانـګـو کي د حـمزه د وينو سره دي
تهٔ شوې د پښتو غزلهٔ ځوان زه دي بابا کړم

لکه څنګه مو چي وويل،حمزه بابا پښتو غزل ته انساني ځانګړنه يا بڼه ورکوي، پهٔدغهٔ بيت کي دتشخيص ادبي صنعت يا کهٔ لږ يي واضحه کړو نو عقلي تشخيص کارول شوی دی او د پښتو غزل يي تشخيص کړی دی.
معنا يي داسي ده: حمزه بابا پښتو غزل ته د انساني خصوصيت پهٔ ورکولو سره وايي، چي ستا پهٔ اننګو، باړخو يا هم غمبورو کي چي کومه سرخي او مستي ليدل کيږي، هغه د حمزه د زور، قوت، طاقت او شور برکت دی يا هم ستا د باړخو پهٔ شريانونو يا رګونو کي د حمزه ويني دي. موخه يي داده چي ستا ( غزل ) کي چي کوم شور، مستي، قوت، متانت او پختګي ليدل کيږي، هغه د حمزه لهٔ برکته دی، ځکه حمزه ستا يا هم د پښتو غزل تهٔ دا قوت، شور، تنوع او پرمختګ ورکړی.
پهٔځواني کي انسان لهٔ شور، مستی او قوت څخه برخمن وي، همدارنګه د ځوانانو پهٔ اننګو کي سرخي، ښکلا، جذابيت او قوت لهٔ ورايه ښکاري. نو حمزه بابا هم وايي چي د پښتو پهٔ غزل کي چي کومه ښکلا، قوت، متانت، تنوع، جذابيت او پرمختګ ليدل کيږي، هغه زما د شاعرۍ او ليکوالۍ برکت دی. ما د پښتو غزل ته دا ځانګړني ورکړي دي.
»تهٔ شوې د پښتو غزلهٔ ځوان زه دي بابا کړم«
پهٔ دې مسره کي حمزه بابا برعکس د پښتو غزل ته انساني ځانګړنه ورکوي. چي دې ادبي صنعت « جاندار انګاري» وايي. غواړم لومړی جاندار انګاري او بې جاندار انګاري ادبي صنعتونه لوستونکو ته ور وپيژنم.
دويم جاندار انګاري : هغه ادبي صنعت ته وايي چي شاعر پهٔ خپل شعر کي طبيعي شيانو ته د ذوالروحو ژويو يا هغو ژوي چي روح ولري خو عقل و نهٔ لري، انساني ځانګړني ورکړي. لکه :

بال می ريزد فلک بر فکر من
خاک می بوسد ز درګاهم بشر

در نمونه ی بالا ګوينده ( فلک) را به صورت پرنده تصوير کرده که از هم راهی« فکر » او عاجز است.
نو پهٔ دې مسره کي حمزه بابا د تشخيص صنعت کارولی دی، چي « پښتو غزل » ته يي انساني ځانګړنه ورکړې ده. شاعر وايي چي تهٔ « د پښتو غزل » زما د شاعرۍ او ليکوالۍ لهٔ امله ځوان، تازه او ځلانده شوې، خو زه ( حمزه بابا ) زوړ شوم.
دريېم :بې جاندار انګاري: هغه ادبي صنعت ته وايي چي شاعر پهٔخپل شعر کي ذوالروح او ذوالعقول ژويو او حيوانانو ته د بې سا توکو يا بې سا څيزونو ځانګړنه او بڼه ورکړي. يا پهٔ ډېرې ساده توګه کهٔ ووايو چي شاعر يو ژوندي ژوي ته د بې ساه شيانو او څيزونو ځانګړنه ورکړي، چي دا کار د نورو ادبي صنايع لکه: استعاره، مجاز، تشبيه... لهٔ لارې ترسره کېدی شي. د بېلګي پهٔ توګه لاندي بيتونه وګورئ:

من که ز من ګريختم، باده ی عقل ريختم
خـاک وجـود بيختم، بين دف خاوری زنم

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

شاعر در این بیت « من که زمن گریختم» از یک سو « استعاره اداتی» و پارادوکس است و از دیگر یو « من » دوم دلالت بر مکان خاص دارد، که گوینده از سر زمین من وجود به سوی معشوق سفر می کند و از سوی دیگر وجودش را چمن خاک میداند و آن را می بیزد؛ در نتیجه تصویر زیبای حاصل می شود.
یا د رحمان بابا بیت:

لکه ونـه مستقیم پهٔ خپل مکان یم
کهٔ بهار را باندې راشي کهٔخزان

یا:

لکه خس د سیلاب خلاص لهٔ گمراهی یم
پـر اورو د رهـبـر سپـور یـم تـر منـزلـه

پهٔ لومړي بیت کې رحمان بابا ځان لهٔ ونې سره تشبیه کړی دی او پهٔ دویم بیت کې شاعر یا متکلم ځان د سیلاب لهٔ خس سره تشبیه کوي. کهٔ پورته بیتونو ته لږ ځیر شو، نو لیدل کیږي چې پهٔ لومړي او دویم بیت کې شاعر ځانته د بې روحه یا بې سا څیزونو ځانګړنه ورکړې او یو ژوندی ژوی یا حیوان یې بې سا کړی دی. پهٔلومړي بیت کې یې ځانته د ونې او پهٔ دویم بیت کې یې ځانته د خس ځانګړنه ورکړې ده،چې دې کار ته پهٔبلاغي علومو کې بې جاندار انګاري وايي.
هېره دې نه وي، چې دا توکي د لومړي ځل لهٔ پاره پهٔ پارسي ژبه کې داکتر کزازي لهٔ توپیر او پېژندنې سره کارولي دي، خو پهٔ افغانستان کې لومړنی لیکوال چې د یادو توکو پېژندنه، زیاتونه او کارونه یې کړې ده، هغه حبیب الله کاشفي دی. کاشفي پهٔ پارسي ژبه کې د بې جاندار انګاري د صنعت لومړی کارونکی ګڼل کیږي.
زما هم دغې برخې تهٔ پام شو، ما ویل د حمزه بابا د یاد بیت پهٔ پلمه به یې لوستونکو تهٔ ور وپېژنم، زهٔ فکر نهٔ کوم دا نومونې لاتر اوسه پهٔ پښتو ژبه کې کوم لیکوال پهٔ دې ډول پېژندنې او تفکیک سره کارولي وي.

اوس راځم د دې بیت ژبوهنیزې سپړنې ته:

ستا پـهٔ اننګو کې د حـمـزه د ویـنـو سره دي
تهٔ شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

پهٔ لومړی مسره کې « ستا » نومځری کارول شوی دی. دا ملکي نومځری دی، چې د دویم کس ( نارینه او ښځینه) لهٔ پاره کارول کیږي.
پهٔ دویمه مسره کې « تهٔ » ځانګړی نومځری دی. چې د دویم کس ( نارینه او ښځینه) یا مخاطب لهٔ پاره کارول کیږي. حمزه بابا پهٔ پورت بیت کې د « ستا او تهٔ »نومځري څکه کارولي دي، چې « پښتو غزل » یې تشخیص کړی دی او هغه تهٔ یې انساني بڼه ورکړې ده، نو کله چې یو طبیعي څیز انساني بڼه خپله کړي، هغه د انساني کړنو استازیتوب هم کولی شي، نو موږ کولی شو هغهٔ ته نومځري وکاروو. موږ کولی شو داسې ډېرې بېلګې د پښتنو شاعرانو پهٔ دیوانونو کې پیدا کړو.

## اخځلیکونه:


۱ ـ کاشفی، حبیب اللهٔ. ۱۳۹۳ ه. آوای شور عشق. مرکز پخش: کتاب فروشی الیاس عزیزی، کابل جاده ی آسمایی.
۲ ـ د رحمان بابا دیوان
۳ ـ د حنان بارکزی دیوان
۴ ـ پښتو لندی
۵ ـ د حمزه بابا دیوان
۶ ـ کاشفی، حبیب اللهٔ . ۱۳۹۴ ه. موسیقی شعر. مرکز پخش: کتاب فروشی الیاس عزیزی، کابل جاده ی آسمایی.
۷ ـ بیان داکتر صاحب کزازی




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ